# سلامونه



يو شمېر كســـــانو ماته د ښاغلي خان محمـــد تكل ليكنه را استولې ده چې عـــنوان يې دی:

".د هلمــــند معاهدې په اړه ايران سره هر ډول سياسي ناسته مردوده او ملي خـــــيانت دی"

معلومېږي چې مقاله د وطندوستي په احساس ليكل شـوې ده، كه څه هم عنـــوان يې ظاهرا غير مسلكي او له موضوع څخه مبهم فهم افاده كوي. څوک فكر كوي چې مـــقاله د تبليغاتو لپاره ليكل سويده. په داسې حال كې چې زما يقين دی د تكل صـاحب هدف منفي تبليغات نه بلكې غوښتي يې دي خپله پوهه او درد د وطـــنوالو سره شـــــريک كړي. دده دغه نـــيت بايد وستايل سي. موږ بايد خپل ځوان نـــسل تشـــويق كړو چې د هـــــيواد په حياتي مســـائلو كي خـــپل رغنــــــده نظر وړاندي كړی.

بايد عرض وسي چې موږ د ايران سره د هلمند د اوبو د وېش رسمي تړون لرو. دا يوازنی رسمي تړون دی چې د اوبو په مورد كې يې موږ د يو گاونډي سره لرو. ايران د هلمند د رود په اوبو كې د ١٣٥١هـ ش كال د تړون مطابق معينه حقابه لري. نوځكه هغوی بايد زموږ او موږ د هغوی سره د اوبو پر مسائلو وقتا فوقتا خبرې وكړو. دلته زموږ گټې سره شريكې دي. دغسي خبرې نه يوازې خيانت نه دی بلكې ضرورت او مصلحت دی. په داسې حال كې چې رسمي تړون سته او د هرطرف مسئوليتونه او مكلفيتونه پكې مشخص دي، له خبرو تېښته په حقيقت كې په مسلكي لحاظ د ځان كمزوري ښوول او په حقوقي لحاظ ځان ملامتول دي چې په ملي زيان تمامېږي. په داسې حال كې چې موږ اوس نسبتا په ښه موقف كې يو، نو تيښته ولي وكړو؟. اوبه علم دي او د اوبو پر سر مذاكرات يو مهم فن دی چې الحمدلله موږ دواړه لرو.

تكل صاحب ليكي: (ايران د معاهدې له لاسليک څخه وړاندې او وروسته له ٢،٥ څخه تر ٣ ميليارد مترمكعبه اوبه په اوسط ډول په كال كې ترلاسه كړي دي. ايران بايد پر دې قانع واوسي چې تل يې له خپل حق څخه زياتې اوبه اخيستي او د افغان ملت منندوی و اوسي). خو په بل ځای كی پخپله بيا جواب وايي چې ايرانيان ځكه زموږ احسان نه مني چې وايي دا اضافي اوبه د سيلاب وې او افغانانو نشوای مهارولای او د اوبو د مديريت توان يې نه درلود.

محترم تكل صاحب ليكي: (ايران په وروستي ځل يو جگپوړي هيئت ما سره له مشورې خلاف كابل ته را واستوه او غوښتل يې چې يو ځل بيا له خپل نفوذ څخه په استفادې د هلمند د معاهدې د تطبيق مخه ونيسي. خو ما په ټول قوت سره دغه ناسته ناكامه كړه او اجازه مې ورنه كړه چې د هېواد په ارزښتونو معامله وشي. د ډيرو فشارونو سره سره مې ور سره ناسته ونه كړه او د ايران هيئت بېرته ستون شو او دا زما د ماموريت تر ټولو لويه وياړمنه او درنه پرېكړه وه، چې وروسته بيا د داخلي جاسوسانو له خوا په مرگ او له دندې څخه په لرې كولو وگواښل شوم). موږ د تكل صاحب د وطندوستی احساس ستايو. څه وخت مخكی عين پيښه زموږ سره وسوه. يو ايرانی هيئت زمونږ له مشورې پرته كابل ته راغی، او بل په هغو ورځو كې په ايران كې له مېشتو افغانانو سره د ايرانيانو له خوا يو څه تريخ برخورد ترسره شوی وو نو، د اوبو او انرژي د وزارت مسؤلينو

ورسره ونه کتل. سره له دي چې اوس د امارت مجبوریتونه نسبت پخوا ته ډیر دي، خو موږ په دغه ورته عمل نه چا وګواښلو او نه یې د دندې څخه د لیري کولو تهدید وکړ؛ بلکی دا یې زموږ په مسلکی دایره کی زموږ صلاحیت وباله.

یوه موضوع باید ټولو وطنوالو ته واضح وي چی موږ د هلمند د رود د ۱۳۵۱ هـ ش کال پر تړون او د هغه پر کیف و کان هیڅ خبري نه کوو. یوازی د تړون پر سم تطبیق خبري کوو. دا زموږ موقف دی او ډیر واضح دی. د تړون مطابق موږ مکلف یو چې ایران ته د دوی حقابه په دریو سرحدي نکتو کی ورکړو. تکل صاحب د مقالی په سر کی لیکلی چې (د دغو دریو نقطو ټاکلو (تعین) پروسه زموږ د ماموریت پروخت تر ډیره بشپړه سویده). خو د مقالې په پای کې لیکي چې دغه درې نکتې لا تعیین سوي نه دي او وايي: "د هلمند د معاهدې په اړه دې ایران سره صرف د د دریوو نقطو د تعین په اړه خبرې وشي". موږ ددغو دریو نکتو د جوړیدو موضوع کوم چی تکل صاحب تشویش لري په جدیت راپورته کړیده. کاشکي تېر شل کاله چې کافي امکانات او نړیوال ملاتړ هم و، دغه درې د اوبو د تحویلي ځایونه جوړ شوي وای. اوس به دا مشکل موږ ته په میراث نه وای پاته.

تکل صاحب دا هم لیکي: "زما د معلوماتو له مخې به په نږدې راتلوونکي کې ایراني چارواکو سره په کابل کې ناسته تر سره کیږي چې طالبانو ور سره منلې هم ده. دا ناسته یو نمایشي ناسته ده چې د معاهدې د تطبیق لپاره نه بلکې د نقض لپاره یې د اسنادو پرېښودل دي". د دوستانو د معلومات لپاره باید عرض وکړم چی د تړون د اتمې مادې د حکم په اساس د دواړو خواو کمیساران د تړون د تطبیق په منظور منظم سره ګوري او خبرې کوي. تراوسه د دواړو خواو د کمیسارانو ۲۵ نوبتي غونډې سویدي چې اخیره یې د تیر جون په میاشت کې په ایران کی وه. تر هغه دمخه غونډه په زرنج کې وه. درویشت نوري غونډې په تېرو حکومتونو کې سویدي. دا وار بیا د افغانستان نوبت دی او بله غونډه به بیا په ایران کې کیږي. دا نوبتي غونډې به د معمول په شان ادامه لري. دلته د معاهدې د نقض موضوع بالکل مطرح نه ده.

تکل صاحب د ایران سره د افغانانو له مذاکراتو مایوس دی او وايي: (مړ هم زه او پړ هم زه). باید عرض وکړم، موږ نه مړه یو او نه پړه یو. په مسلکي لحاظ په موږ کې بالکل دا توان شته چې له خپلو ملي منافعو په کلکه دفاع وکړو او کړې مو هم ده. ایران هم زموږ په مسلکي کفایت پوه دی.

د ایران د هایدورپالیتک د انجمن رئیس ( د ایران د اوبو د سیاست د اداری مشر) زما له شاګردانو څخه دی.

تکل صاحب لیکي: "بغیر د دریوو نقطو د ټاکلو چې ایران هېڅکله ورته نه حاضر بږي له دې ور هاخوا له ایران سره په نورو مسائلو بحث او ناستې، معامله او ملي خیانت ده"

دوستانو! که تړون په غور او مسلکي فهم ولوستل سي، موږ تر دغو دریو نکتو هاخوا ډیري نوري خبرې د ایران سره د هلمند د رود د اوبو د تړون د ښه تطبیق په اړه لرو. یوه یې داده چې موږ د تړون مطابق ۴ مترمکعب في ثانیه اوبه ایران ته د حق په خاطر نه بلکې د حسن همجواري د مراعات په شرط ورکوو. اوس دغه حسن همجواري جریحه داره سویده. ایران د افغانستان حکومت په رسمیت نه پیژني، د افغان مهاجرینو سره

ښه وضعیت نه کوي، په تجارت او ترانزیت کې زموږ تجارانو ته لازم سهولتونه نه برابروي، .... دا مسئله موږ په تهران کې په لازم حد کې راپورته هم کړه. سربیره پر دغه د تړون روح د ایران لخوا نه دی تطبیق شوې چې دا بل لوی بحث دی. ایران موږ ته په ۱۹۷۷م کال د دوه زره ملیون ډالرو د راکړې تعهد کړی و، هغه باید عملي سي. د ایران په پیسو باید درې بنده په شمول د کمال خان د هلمند پر رود جوړ سي، چابهار کې مفت بندر او ترانزیتي اسانتیاوې راکول سي او له چابهاره تر دلارام د اورګادی پټلۍ د ایران په مصرف جوړه سي. ډیر موضوعات سته چې موږ یې د ایران سره لرو. که فرصت میسر سي، موږ د ټولو ګاونډیانو سره خبرې لرو. موږ د ټولو ګاوندیانو سره د متقابل احترام پر بنیاد د اړیکو ټینګول غواړو. موږ غواړو دسیمي هیوادونه خپل طبیعي منابع د سیمې د خلکو په ګټه عادلانه داسي وکاروي چې د سیمې د ثبات او د خلکو د رفاه، ترقي او ازدهار سبب سي. موږ له خبرو باید ونه تښتو، خبرې ملي خیانت ونه ګڼو، خپل ځانونه د مسلک او علمي فهم په لحاظ حقیر او فقیر، مړ او پړ احساس نکړو او خپلو مسلکي او مجربو وطندوستو کدرونو ته په شک او بي باوري ونه ګورو.

د ایران سره د هلمند د رود د اوبو د تړون په مورد کې لطفا زما هغه کتاب ولولئ چی په انګلیسی زما د لکچرونو برخه او پښتو ژباړه یې د علومو اکاډمۍ چاپ کړیده (اوبه د تیلو او سمندري بندر په مقابل کې) .

درناوی. فاروق اعظم